# بې‌شکه قبر د آخرت له منزلونو څخه لومړی منزل دی؛ که ځوک ترې خلاص شو، نو هغه څه چې وروسته راځي، ترې آسان دي؛ او که ترې خلاص نه شو، نو هغه څه چې وروسته راځي ترې ډېر سخت دي

له هانئ؛ د عثمان رضی الله عنه مولی (ازاد کړی شوي غلام) څخه روایت دی، هغه وویل: کله به چې عثمان رضی الله عنه د قبر پر سر ودرېد، دومره به یې وژړل چې ږیره به یې لمده شوه، نو ورته وویل شول: د جنت او دوزخ یادېدو پر مهال نه ژاړې، خو ددې (قبر) له امله ژاړې؟ هغه وویل: بېشکه د الله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي: بې‌شکه قبر د آخرت له منزلونو څخه لومړی منزل دی؛ که ځوک ترې خلاص شو، نو هغه څه چې وروسته راځي، ترې آسان دي؛ او که ترې خلاص نه شو، نو هغه څه چې وروسته راځي ترې ډېر سخت دي.

[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روایت کړی دی]

کله به چې امیر المؤمنین عثمان بن عفان رضي الله عنه د قبر پر سر ودرېده، نو دومره به یې ژړل چې اوښکو به یې ږیره لمده کړه، نو ورته وویل شول: کله چې د جنت او دوزخ یادونه کېږي نو ته جنت ته د لیوالتیا او له اور څخه د دوېرې له امله نه ژاړې! خو د قبر له امله ژاړې. هغه وویل: بې‌شکه رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر راکړی چې قبر د آخرت د منزلونو لومړی منزل دی؛ که ځوک ترې خلاص شو او نجات یې ومومه، نو هغه منزلونه چې وروسته پسې راځي د دې پرتله اسان دي؛ او که د قبر له عذاب څخه یې نجات ونه مومه، نو هغه عذابونه چې وروسته تر راځي لا ډېر سخت دي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/11205

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee